تکل

# وار به دې راشي خو کۀ وار دې وکړو

فضل مومند

ما چې کله د تکل لیکلو پاره د خپل فکر په زین کړې اس پښنه واړوله او د موضوع د لټون ښکار مې شروع کړو نو په وېره وېره مې ځان له د یوې موضوع ښکار وکړو، ګنې داسې یوه موضوع هم نۀ ده پاتې چې په هغې ډاکټر اسرار صېب یا مشتاق مجروح صېب تکل نۀ وي لیکلے، وار مې ونۀ کړو او بې واره مې قلم راپورته کړو او بې واره بې واره مې څۀ لیکل شروع کړل.

هسې خو د وار یا بې واره اصطلاح په ډېرو موقعو استعمالېږي لکه بې واره غړېدل، بې واره ژړېدل، بې واره خندېدل یا د خُلې وار، د اوبۀ خور وار، د څوکۍ د ساتلو وار او یا د ژرندې وار وغېره.

هغه د مشرانو د خُلې خبره ژرنده کۀ د پلار ده خو په وار ده، خو زۀ وایم کۀ د نن مشران دا محاوره داسې کړي، بجلي کۀ د سرکار ده خو په وار ده ولې چې د نن ژرندې هم په بجلۍ ګرځي. کۀ ژرندې له دې د غنمو یا جوارو بوجۍ یوړه او د ژرندګرې نه د خپل وار پوښتنه وکړې نو درته به وائي چې ستا وار به هله راشي چې دا بجلي په وار شي. هغته لس ورځې پس دې کۀ وار راغے هم شکر وباسه. بس انتظار کوه کۀ په کور کښې دې اوړۀ ختم وي نو په بدل کښې یوکلو دوه کلو ځان سره یوسه یا چرته د ګاونډي نه ئې په پور واخله، زۀ خو وایم چې مړه د دې نه خو هغه د اوبو ژرندې ښې وې، نۀ خو به د اوبو کمے کېدو او نۀ به دې وار بې واره کېدو ځکه چې د ژرندګرې د پلار وار به هم په وار ؤ. لکه څنګه چې خلق یو ځل بیا د ډیوو او لالټینونو زمانې ته لاړل، پخوانې صدر سره دې خدائے ښۀ وکړي چې د کاڼي زمانې ته ئې د رسولو نه بچ کړو، ګني کۀ هغۀ د خپل اقا خبره نۀ وے منلې نو اوس به مونږ هم په هغه زمانه کښې وو، شکر دے چې د کاڼي زمانې نه بچ شو خو ولې موجوده حکومت د ډیوې او لالټېن زمانې ته واپس ورسولو چې د کاڼي زمانې ته لږه نزدې ده، ځکه چې د ژرندې پل هم د کاڼي وي او د مېچنې پل هم، خو کۀ دا بجلي داسې بې واره بې واره ځي او د اوبو هم کمے وي نو یو ځل به بیا د مېچنې زمانې ته لاړ شو. مېچن چې زمونږ د کاڼي د زمانې هغه تاریخي اوزار دے چې دنیا ئې نن د مشین په نامه بولي، زمونږ د ملک بجلي چې اوس بې واره شوې ده، شاید چې په ښارونو کښې به په وار وي، په وار به ځي او په وار به راځي څۀ ټائم ټېبل به ئې وي، خو ولې زمونږ یا په خواوشا کلو کښې خو ئې هډو څۀ وار نشته چې په تلو ئې چاته حېراني نۀ وي په راتلو ئې حېراني وي، خبره مې د لالټېن او ډیوې کوله. یو ځلې بیا په کورونو کښې زاړۀ جرمني لالټېنونه د زړو تاخونو نه را بهر کړے شوي دي او ډیوې ئې بیا په ډیوټونو کښې سمې کړې دي. خو ولې نن سبا د خاورو د تېلو نرخ هم اسمان سره خبرې کوي او هر سړے مجبوره دے چې د خپل لالټېن لوډشېډنګ په خپله وکړي یا ئې باتۍ دومره لاندې وساتي چې ایله تېل بویوي. چار ئې ښۀ کور ئې اباد زمونږ د ګاونډي ملک

چين چې د لوډشيډنګ متبادل ئې دومره ايمرجنسي لائټونه زمونږ ملک ته رالېږلي دي چې سل قسمه کوالټۍ لري ښهٔ په ارزان نرخ ملاوېږي، ګني تاسو د خيبر بازار فټ پاتونو ته وګورئ چې د ايمرجنسي لائټونو په اخستو چاته وار ملاوېږي او که نهٔ، د بجلۍ دلاسه زمونږ د ملک تمام سسټم بې واره شوے دے.

کهٔ په پټو کښې اوبهٔ خور کوے نو هم د خپل وار انتظار به کوې، فصل دې کهٔ تباه کېږي تباه دې شي، شايد چې په نهري علاقو کښې به اوبهٔ خور په خپل وار وي خو ولې شکر دے، زمونږ علاقه د نهرونو نه پاکه ده ټول دارومدار د بجلۍ په ټيوب ويلونو دے، که د ټيوب ويل مالک سره د اوبو خور وار نيسې نو هم شرط به پکښې د بجلۍ وي، که درزي له دې کپړې يوړې نو هم د بجلۍ خبره به وي.

دنيا اوس دومره ګړندۍ روانه ده چې څوک هډو خپل وار ته هم وار نهٔ کوي، ګني خاطر اپريدي خو لا پخوا وئيلي دي چې:

خاطره زهٔ له تا نه چا وړے يم
وار به دې راشي خو کهٔ وار دې وکړو

شايد چې په هغه وخت کښې خلقو يو بل ته وار کولو خو ولې نن سبا خو خلق دومره په منډه دي چې هر څهٔ بې واره کول غواړي.

زهٔ يو ډاکټر ملګري سره په کلينک کښې ناست وم د مريضانو ګڼه جوړه وه هر يو مريض به د خپل وار تپوس وار په وار کولو، يو مشر ورته بې واره رانزدې شو او ډاکټر نه ئې پوښتنه وکړه، ډاکټر صيب زما دا ماشوم لږه زر وګوره نمونيه ئې ده خراب نهٔ شي راته، ډاکټر ورته وئيل لږ وار وکړه، تا نه مخکښې د دې بل مريض وار دے... او چې بيا د هغهٔ وار راتلو نو بجلي تلې وه او چې بيا بجلي راتله راتله نو د ماشوم لاس او

# يو نظر دې خوا

د باچا خان ټرسټ د څېړنې څانګې ته د لانديني خدائي خدمتګارو د ژوند پوره او تفصيلي معلومات پکار دي څوک چې د باچا خان د څنګ، ننګ او پېرنګي استعمار خلاف د جنګ ملګري پاتې شوي دي او په خدائي خدمتګار تحريک کښې ئې د زړهٔ له تله برخه اخستې وه، د ځانونو، مالونو او جائدادونو قربانۍ ئې ورکړې دي، د عدم تشدد په نظريه ټينګ ولاړ پاتې شوي دي، تشدد ئې ګاللے دے، جېلونه ئې تېر کړي دي او خپلې ځوانۍ ئې لَو لور کړې دي، کهٔ څوک څېړنکار په دغه شخصيتونو کوټلي ليکونه کولے شي او مونږ ته ئې راواستوي نو مننه به ئې کوو. مونږ د دغو خدائي خدمتګارو ځنې نامې لاندې درج کوو کهٔ له دوي نه علاوه نور ښاغلي مشران د چا په خواوشا کښې داسې تېر شوي وي نو د هغوي په حقله هم خپل معلومات راستولے شئ. کهٔ تصويرونه ئې پېدا کېږي نو دا به نوره هم غوره وي.

صاحبزاده خورشيد د ادينه، علي اصغر د مردان، قاضي عطاءالله خان د مردان، سيد فضل لطيف د بدرګې، عبدالخالق خليق د مانکي شريف، شاد محمد خان ميرے د رڅړو چارسدې، فضل رحيم ساقي د وردګې چارسدې، عبدالمالک فدا د بابړې چارسدې، ماسټر عبدالکريم د اتمانزو چارسدې، ستي جان د چارسدې، احمد کاکا د بابړې چارسدې، مولوي تاج محمد خان د بغدادې مردان، مولوي عنايت الله د طورو مردان، راحت خان بابا د سخا کوټ ملاکنډ ايجنسۍ، رفيق شالدا د تانې ملاکنډ ايجنسۍ او کانګرسي کاکا، ډاکټر خان صيب، سالار يعقوب خان د بنو، کاکاجي صنوبر حسين مومند د کړې ولې پېښور، اميرنواز خان جليا د اتمانزو، اميرزاده خان د بخشالي ګجرات مردان، عبدالطيف افندي، عاشق شاه باچا د بډه بېرې، حافظ جسيم الدين د مردان، جيلاني کاکا د مردان، حکيم عبدالسلام د هري پور هزارې، ازاد خان کاکا جدون د ايبټ آباد، حاجي فقيرا خان، سالار داؤد خان، ثمين جان خان د محب بانډې پېښور، ميا محمد شاه ستي، ارباب عبدالغفور، سيف الملوک خان خويشکي، علي ګل خان د پېښور، سيد بلال بادشاه د پېښور، يحيٰي جان خان (د بابا زوم)، غلام محمد ګاما د پېښور، عبدالعزيز خان کاکا د زيدې، حکيم سيدالابرار د محب بانډې مردان، مرزا تاج محمد خاموش، خادم محمد اکبر، سالار ربنواز خان، قاضي حبيب الرحمان د بنو او داسې نور ډېر.

هيله لرو چې زمونږ درانهٔ لوستونکي به مونږ سره د قلمي امداد په حيث خپله رابطه وساتي او د باچا خان د ملګرو خدائي خدمتګارو د ژوند حالات او واقعات به په تفصيل سره مونږ ته راواستوي ځکه چې د دې ښاغليو نامې د سرو زرو په اوبو د ليکلو دي او دا ټول مشران د پښتو، پښتون او پښتونخوا فخر دي. په مينه او مننه